(رحمۃ اللہ علیہ)

# فیضانِ غوثِ اعظم

پشتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لوله

اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی څه چه لوله هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه:** اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولوله)

طالب غم مدينہ بقيع ومغفرت

د رسالے نوم: فيضانِ غوثِ اعظم

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَنی عرض: بل چا ته د دې رسالے د چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# فیضانِ غوثِ اعظم

د **دعوتِ اسلامي مجلِس اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة** دا رِساله " **فیضانِ غوثِ اعظم** " په اردو ژبه کښې لیکلي ده.

**مجلسِ تراجِم** (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې **مجلس تراجِم** ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فیضانِ غوثِ اعظم

**دعائے عطّار:** يا الله پاكه! څوك چې دا رساله "**فيضانِ غوثِ اعظم**" اُولوَلي يا ئې واوري هغه ته د پيران پير غَوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ريښتونے محبّت او خصوصي بركتونه نصيب كړې او بے حسابه ئې اُوبخښے.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاك د آخري نبي محمّدِ مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې كثرت سره دُرُود شريف لوَلئ ځكه چې ستاسو دُرُود شريف په ما باندې پيش كولے كيږي. (مُعْجَمُ الْاَوسط، 84/1، حديث:241، دار الكتب العلمية بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عظيم اِحسان

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عاشقانو! د الله پاك په مونږ اهلِسُنّت باندې ډير لوئ فضل او كرم دے چې مونږ ته ئې د اَولِيائے كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه د عزّت و تعظيم كولو، د

هغوئي د عُرسونو كولو، مزاراتو ته د حاضريدلو او د هغوئي د سيرت بيانوَلو توفيق رانصيب كړے دے. آَوليائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ د الله پاك خوَبن بندګان وي، د هغوئي ټول ژوند د الله پاك په ياد او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ په ياد كښې تيريږي، مونږ له هم پكار دي چې دغه شان د شريعت مطابق ژوند تير كړو. الله پاك په خلو دغه بندګانو باندې د رحمت باران وَرَوِي. د الله پاك د دغه نيكانو بندګانو د شان د پاره د قُران دا آيت كافي دے، چنانچه

يوولسمه سپاره سورة يُونُس آيت نمبر 62 كښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ | [مَفهوم] ترجمۂ كنزُالايمان: واورئ بےشكه چې د الله په اولياؤ باندې نه څه ويره شته او نه څه غم. |

كيا غور جب گيارهويں بارهويں ميں معمّا يه هم پر كھلا غوثِ اعظم

تمهيں وصلِ بے فصل هے شاهِ ديں سے ديا حق نے يه مرتبه غوثِ اعظم

صحابي اِبنِ صحابي، جَنَّتي اِبنِ جَنَّتي حضرت سيّدنا عبد الله اِبنِ عباس رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُما د دې آيت په تفسير كښې فرمائي: ”په اوليائے كرامو باندې په دُنيا كښې هيڅ ويره نشته، او نه به هغوئي په آخِرت كښې غمګين وي بلكه الله پاك به په خوشحالئ او په عزّت سره د هغوئي استقبال فرمائي او هغوئ ته به هميشه پاتې كيدونكي نعمتونه وركوي.“ (حكايتيں اور نصيحتيں، ص361)

# د غَوثِ اعظم تعارُف

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو: هسې خو د رَبِيعُ الْآخِر په مياشت كښې د نورو بزرګانو عُرسونه هم وي خو دا مياشت د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره خاص نِسبت لري او د دې مياشتې په يوولسم تاريخ باندې د پيرانِ پير غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عُرس شريف كيږي زمونږ ډير خوږ پير و مُرشِد سيّدي پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئ وليُّ الله بلكه د اولياؤ سردار وو. د هغوئي مبارك نوم عبدُالقادر كُنيَت ابو محمّد او القابات مُحيُ الدّين، محبوبِ سبحاني، غوثُ الثَّقَلين، غوثُ الاعظم وغيره دي، هغوئي په 470 هجري كښې د بغداد شريف په علاقه "جِيلان" كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښې په يكم تاريخ پيدا شولو. هغوئي د خپل پلار له طرفه [په نَسَب كښې] د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي امامِ حسنِ مُجتبىٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوولسم نمسے دے. (بهجة الاسرار، ص171) او د خپلې مور له طرفه [په نسب كښې] د امام عالي مقام امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دولسم نمسے دے. (علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مور له طرف نه د هغوئي نسب هُم دا بيان كړے دے) (نُزهة الخاطر الفاطر، ص12)

اعلىٰ حضرت امام اهلِسنّت د پيرانِ پير غوثِ اعظم په خدمت كښې عرض كوي، فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | | اونچے اونچوں کے سَروں سے قدم اعلیٰ تیرا |
| سَر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا | | اَولیا مَلتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا |
| نَبوی مِینہ عَلَوی فصل، بَتُولی گلشن | | حَسَنی پھول حُسَینی ہے مہکنا تیرا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# باباجان ته خوشخبري

**د پيرانِ پير غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **عاشقانو!** زمونږ د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والدِ محترم حضرت سَيِّدُنا ابو صالِح مُوسیٰ جنګي دوست رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وِلادت [يعني پيدائش] په شپه اُوليدل چې د انبياؤ سردار نبيِّ مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او اوليائے عظامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ سره د هغوئي کور ته تشريف راوړلو او په دې الفاظو مبارکو ئې خوشخبري ورکړه: اے ابو صالِح! الله پاك تا ته داسې ځوئي دَرعطا کړے دے چې دا وَلِیُّ الله دے او دا زما او د الله پاك محبوب دے او د ده به په اوليائے کرامو کښې داسې شان وي لکه څنګه چې په انبياء او رسولانو عَلَيْهِمُ السَّلَام کښې زما شان دے. ورسره نورو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام هم داسې خوشخبري ورکړه چې ټول اولياء رَحِمَهُمُ اللّٰهُ به ستاسو د نيك بخته ځوئي فرمانبردار وي او د هغوئي په څټونو باندې به د دوئي قدَم وي. (سيرتِ غوثُ الثقلين،ص55بحواله تفريح الخاطِر،ص12)

جس کی منبر ہوئی گردنِ اولیا
اُس قدم کی کرامت پہ لاکھوں سلام

غوثِ اعظم امامُ التُّقٰے وَالنُّقٰے
جلوۂ شانِ قدرت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# قُطبِ عالَم

عظيم تابعي بُزرګ حضرت سيدنا حسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپلې زمانے نه واخله د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زمانے پورې په تفصيل سره خبر ورکړے دے چې

څومره هم اولياءِ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰه تير شوي دي هغوئي ټولو د شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خبر ورکړے دے. د سِلسِلهٔ عطّاريه قادريه عظيم بُزرګ حضرت سيدنا شيخ جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ماته د عالَمِ غيب نه معلومه شوي ده چې د پينځمي صدئ په مينځ کښې به د سيّدُ المُرسلين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اولادِ پاك کښې يو قُطبِ عالَم پيدا کيږي، چې د هغوئي لقب به مُحيُ الدِّين او نوم مبارك به ئې سيد عبدُالقادر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وي او هغوئي به غوثِ اعظم وي او په جِيلان کښې به پيدا کيږي. (سيرتِ غوثُ الثقلين،ص۵۸)

| | | | |
|---|---|---|---|
| سلطانِ ولايت | غوثِ پاک | په وليانو حکومت | غوثِ پاک |
| شهبازِ خطابت | غوثِ پاک | فانوسِ ہدايت | غوثِ پاک |
| د الله رحمت | غوثِ پاک | دي باعثِ برکت | غوثِ پاک |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خاندان

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د پيرانِ پير غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نيکه حضرت سيدنا عبدُ الله صومعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جيلان شريف د اوليائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه نه وو. هغوئي د ډير زيات پرهيز ګاره کيدلو سره سره صاحبِ فضل و کمال والا هم وو او هغوئي مُستَجَابُ الدَّعوَات هم وو (يعني د هغوئي دُعاګاني به قبليدلې). که هغوئي به د يو کس نه خفه شو نو الله پاك به د هغه کس نه بَدله اخِستله او چې د چا نه به خوشحاله شو نه الله پاك به په هغه کس باندې ډير اِنعام و اِکرام کولو، جِسماني طور

باندې د کمزورۍ کيدلو باوجود به هم هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نوافِلو کثرت کولو او په ذکر و اذکار کښې به مشغول اوسيدلو. هغوئي به اکثر د معاملاتو د واقع کيدلو نه مخکښې خبر ورکولو او هم هغه شان واقعات به کيدل. (بهجة الاسرار،ص172)

د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پلار له طرفه د ترور کُنيّت "اُمِّ محمّد" او نوم "عائشه بنتِ عبدُالله" وو. هغوئي ډيره نيکه او باکرامته زنانه وه. خلق به د خپلو ضرورتونو پوره کيدلو او د دُعا د درخواست کولو د پاره د هغې دربار ته حاضريدَل-

د پيرانِ پير غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو وررور هم وو چې د هغوئي نوم سيّد ابو احمد عبدُالله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو. هغوئي د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه په عُمر کښې کشر وو او د عِلم او تقوىٰ نه ورته کافي حصه ملاو وه خو هغوئي په ځوانئ کښې وفات شوے وو. د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټوله کورنئ نيکان خلق وو، د هغوئي دواړه نيکونه، والد صاحب، مور، ترور، او صاحبزادګان ټول متّقيان او پرهيزګاره وو، په دې وجه خلق د هغوئي خاندان ته "د اشرافو خاندان" وائي. امِيرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خاندان شان بيان کولو کښې فرمائي:

مُکرّم شہا تیرے سارے کے سا ہیں آباء واَجداد یا غوثِ اعظم

(وسائلِ بخشش مرمم،ص 555)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د تختِ سکندري هيڅ پرواه نه کوي

د پيرانِ پير غوثِ اعظم حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عبدُ القادِر جِيلاني دستګير دربار ته د نيمروز مُلك (چې دا اوس د افغانستان يوه صوبه ده د هغې) بادشاه خَط راوليږلو چې زه د مُلك څه حصه بطورِ جاګير [يعني مالکانه حقوقو سره] تاسو دَرکوَل غواړم چې تاسو هم زما په شان د عيش و آرام ژوَند تير کړئ، نو زمونږ خوږ پير و مُرشد پيرانِ پير غوثِ اعظم دستګير رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د هغې په جواب کښې د فارسئ يو څو شعرونه اُوليکل او ور اُوئې ليږل: (چې د هغې ترجمه داسې ده)

که زما په زړه کښې د مُلكِ سَنجَر لړ شان هَوَس [يعني حِرص] هم وي نو د سَنجَر د بادشاه د تور رنګ د تاج په شان دِ زما نصيب هم تور شي ځکه چې ما ته دولتِ نيم شب (يعني په نيمه شپه کښې د الله پاك د عبادتونو کوَلو) په شان بادشاهي مِلاو ده نو د نيمروز د بادشاهئ قيمت زما په نظر کښې د "وربَشې" د يوے دانے همره هم نه دے.

(اخبارُ الاخيار،ص204)

اُن کا منگتا پاؤں سے ٹھکرا دے وہ دُنیا کا تاج ‎ ‎ ‎ جس کی خاطر مر گئے مُنۡعِم رگڑ کر ایڑیاں

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! ‎ ‎ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د غَوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عبادَتونه

**د پيرانِ پير غوثِ اعظم عاشقانو!** زمونږ ګران او خوږ پير و مُرشِد پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به عبادت و رياضت او د قران پاك ډير زيات تلاوت کولو. چنانچه

نقل شوي دي چې "هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه به د پینځلسو کالو پورې په هره شپه کښې یو قرانِ پاك ختم کولو. (بهجة الاسرار،ص118) هغوئي به روزانه زر 1000 رکعته نفل کوَل." (تفریح الخاطر،ص36) یوه شپه چې هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه د خپلو معمولاتو اراده اُوکړه نو نفس د سُستئ په وجه د لږ وخت څملاستلو او وروستو د عبادت کولو مشوَره وَرکړه، چې په کوم ځائے کښې او په کوم وخت کښې دا خیال ورغلے وو هم په هغه وخت په هغه ځائے په یوه ښپه اودریدلو او پوره قرآن پاك ئې ختم کړو. (سانپ نما جن،ص10) کیدے شي چې د چا په خیال کښې دا سُوال پیدا شي چې بُزرګانِ دین به دومره ډیر عبادتونه څنګه کول نو د دې جوب دا دے چې د نیکانو خلقو زړونه د اللّٰه پاك په محبّت او پرهیز ګارئ باندې آباد وي، هغوئي د خپلو زړونو نه د دنیا محبّت لرې کړے وي، د هغوئي روحونه د اللّٰه پاك د ذِکر نه بغیر بےسکونه او بے قراره وي، په دې وجه هغوئي هر وخت او هر ساعت د اللّٰه پاك په یاد کښې مصروفه وي او دا مقام په عبادت او ریاضت کښې په ډیر سخت محنت کولو باندې حاصلیږي. د سوشل میډیا یو پوسټ (د څه تبدیلئ سره بیانووم) چې په هغې کښې چا داسې ذکر کړے وو: نن صبا چې څنګه خلق ټوله ټوله شپه په سوشل میډیا باندې چیټینګ کولو ویډیو کتلو وغیره کښې تیره کړي او اکثر د څه ستړي والي یا زړه تنګیدلو اظهار هم نه کوي، نو اوس پوهه شوم چې مخکښې به بُزرګانو څنګه ټوله ټوله شپه په عِبادت کښې تیرَوَله، یعني ځکه چې د هغوئي سکون و قرار د اللّٰه پاك په یاد کښې وو او په دې وجه به هغوئي د الله پاك په یاد کښې داسې مشغوله شول چې ټوله شپه به تیره شوه خو هغوئي به هډو پوهه نه شو او مونږه د دنیا په خوندونو کښې داسې بدمسته شوي یو چې د

دنياوي خواهشاتو په وجه هدو په هوش کښې نه راځو. سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه زمونږ په شان غافلان بيدارولو د پاره ليکي:

کس بلا کی مے سے ہیں سرشار ہم | دِن ڈھلا ہوتے نہیں ہُشیار ہم
میں نثار ایسا مسلماں کیجئے | توڑ ڈالیں نفس کا زُنّار ہم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خوفِ خدا او پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه

اے عاشقانِ غَوثِ اعظم! د الله پاك د نيکو بندګانو د هميشه نه دا طريقه ده چې د ډيرو نيکو کولو او د ګناهونو نه ځان ساتلو باوَجود هم د **الله** پاک ډيره زياته وِيره لري. پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به هم د **الله** پاک ډيره زياته ويره لرله چنانچه شَرَفُ الدّين سَعدِي شِيرازي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په حرمِ کعبه کښې اُوليدَلے شو چې په شګو باندې ئې سر ايښے وو او بارګاهِ ربُّ العزّت کښې ئې عرض کولو: **"اے ربِّ کريم! ما اُوبخښے او که زه د سزا حقدار يم نو په ورځ د قيامت باندې ما ړوند راپاڅوې چې د نيکانو خلقو په مخکښې شرمِنده نه شم."**

(ګلِستانِ سعدی، ص54 انتشاراتِ عالمګير ايران)

الله الله! د اوليائے کرامو د سردار کيدَلو باوجود هم د خوفِ خُدا دا حال، صد کروړ مرحبا! د هغوئي د خوفِ خدا نوره اندازه د دې شعرونو نه اُولګوئ چې، هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د اختر په ورځ اُوفرمائيل: (ترجمه): **"يعني خلق وائي چې صبا اختر دے! صبا اختر دے! او ټول خوشحاله دي خو زه چې په کومه ورځ د دې دُنيا نه خپل ايمان سلامت**

يوسم نو زما د پاره به هغه ورځ د اختر وي."

ہے عطار کو سَلبِ ایماں کا دھڑکا | بچا اس کا ایماں بچا غوثِ اعظم
ہو عطار کی بے سبب بخشش آقا | یہ فرمائیں حق سے دُعا غوثِ اعظم

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! مونږه د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خنګه عاشقان يُو چې زمونږه پير و مُرشِد چې د اولياؤ د سردار کيدلو باوجود هم دومره دومره عبادتونه کوي او زمونږ حال دا دے چې زمونږ نه فرض لمونځونه هم نه کيږي او که ادا ئې کړو نو هُم بِلا اجازتِ شرعي د جَمعې نه بغير. ياد ساتئ! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چي کوم کس يو لمونځ قضا کړو نو هغه به په زرګاؤ کلونه د جهنّم د عذاب حقدار جوړ شي او دا هم ياد ساتئ چې قَصداً [يعني اِرادَتاً] بِلا اجازتِ شرعي جَمعه پريښودل سخته ګناه ده. خوک چې د چا سره محبّت کوي هغه د هغه په نقشِ قدم باندې ځي (يعني د هغه پيروي کوي). لهٰذا مونږ ته هم پکار دي چې د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د محبّت دعوٰي کولو سره سره د لمانځه پابندي هم کوو، فرض روژے نيسو، هميشه په هر حالت کښې رښتيا وايُو او هر وخت د الله پاك ويره لرو. کاش کاش کاش!!!

گناہوں نے مجھ کو کہیں کا نہ چھوڑا | نہ ہو جاؤں برباد یا غوثِ اعظم
مجھے نفسِ ظالم پہ کر دیجے غالِب | ہو ناکام ہمزاد یا غوثِ اعظم
مرے قلب سے حُبِّ دنیا کی مرشد | اُکھڑ جائے بُنیاد یا غوثِ اعظم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د مزار نه را اُووتلو او سينے ته ئې راجوخت کړو

امام ابو الحسن علي بن هَيتي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د مزار شريف زيارت اوکړو، ما اوليدل چې امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د قبر نه بهر تشريف راوړو او سيِّدي پيرانِ پير غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ئې خپلې سينې ته راجوخت کړلو او خِلعت (يعني بهترين لباس) ئې ور واغوستلو او ارشاد ئې اوفرمائيل: اے شيخ عبدُالقادر! **بے شکه زه په عِلمِ شريعت، عِلمِ حقيقت، عِلمِ حال او فِعلِ حال کښې ستا مُحتاجه يم.** (بهجةُالاسرار،ص226)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: شريعت د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اقوال دي او طريقت د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم افعال او حقيقت د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم احوال او معرفت د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بےمثاله عُلُوم دي. (فتاوٰی رضويه،460/21)

**فتاوٰی رضويه جلد 26 ص433 کښې دي:** پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هميشه نه حَنبلي وو او روسته چې کله عَينُ الشريعة الکُبرٰی ته اورسيدلو او "منصبِ اِجتهاد مطلق" ورته حاصل شو، مذهبِ حنبل ئې په کمزوري کيدلو اوليدلو، د هغې مطابق ئې فَتوٰی ورکړه چې حضور، محيُ الدين او د دين متين دا څلور واړه ستنې دي، د خلقو له طرفه ئې چې په کومه ستن کښې ضُعف [يعني کمزوري] راتلل اوليدل هغې ته ئې تقويت ورکړو- (فتاوٰی رضويّه، ج ٢٦ ص ٤٣٣)

جو وَلی قبل تھے یا بعد ہوئے یا ہوں گے　　　سب ادب رکھتے ہیں دِل میں مرے آقا تیرا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## طُلبائے کرامو سره د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ محبّت

د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د ديني طُلباؤ سره د شفقت [مهربانئ كولو] يو انداز دا هم وو چې هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به د هغوئي كمزوري نظر انداز كوَله، حضرت سيدنا شيخ احمد بن مبارك رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې هغوئي سره يو عَجَمي (يعني غير عربي) طالبِ علم وو، د هغه ذهن ډير زيات كمزورے وو، او ډير په مُشكِله به پوهيدو، يو ځل هغه طالبِ علم هغوئي سره ناست وو او سبق ئي يادولو چې اِبنِ سَمْحَل نومي يو سړے د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ملاقات له راغے، هغه چې د هغه طالبِ عِلم ذِهني كمزوري او د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په هغې باندې صبر و تحمّل اُوليدو نو ډير زيات حيران شو، چې كله هغه طالبِ علم پاڅيدو او د هغه ځائے نه لاړو نو اِبنِ سَمْحَل عرض اوكړو چې د دې طالبِ علم په ذِهني كمزورئ او ستاسو په صبر باندې زه حيران يم، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائيل چې بس د ده سره زما محنت د يوے هفتے نه هم كم دے ځكه چې دا طالبِ علم به وفات شي. حضرت سيّدُنا احمد بن مبارك رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې د هغه ورځې نه مونږ د هغه طالبِ علم ورځې شميرل شروع كړې او چې كله يوه هفته په پوره كيدو شوه نو په آخري ورځ باندې واقعي هغه وفات شو. (قلائد الجواهر، ص8ملخصاً)

## د اُستاذانو د پاره دَرس

حُجَّةُ الْاِسلام امام محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: استاد دِ په شاګردانو باندې

شفقت کوي او هغوئي دِ د خپلو بچو په شان ګڼړي. د اُستاد مقصود دِ دا وي چې هغه به خپل شاګردان د آخرت د عذاب نه ساتي. (احیاءالعلوم، جلد1ص191)

پیرانِ پیر غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په درس و تدریس، تصنیف و تالیف، وَعظ و نصیحت او د دې نه علاوه په مختلِفو علمي شعبو کښې مهارت لرَلو، خو خاص طوَر په فتوٰی لیکلو کښې هغوئي ته هغه کمال حاصِل وو چې د هغه وخت عُلماء، فُقهاء او مُفتیانِ کرام به هم د هغوئي په لاجوابه فتوو باندې حیران پاتې کیدَل. شیخ امام مُوَفَّقُ الدّین بن قُدامه رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي مونږه اُولیدل چې شیخ عبدُالقادر جیلاني رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د هغه خلقو نه وو چا ته چې بغداد کښې په علم و عمل او فتوٰی لیکلو کښې بادشاهت ورکړے شوے وو. (بهجة الاسرار، ص225) د هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د عِلمي مهارت دا حال وو چې که د هغوئي نه به د انتهائي مشکِلو مسائلو په باره کښې هُم تپوس اوشو نو هغوئي به انتهائي آسان او ښکلے جواب ورکولو، په هغه دوران کښې به چې د هغوئي مسائل د عراق عُلماؤ ته راوړے شو نو هغوئي به په جواب باندې حیران پاتې شول. (بهجةُالاسرار، ص225ملتقطاًوملخصاً)

علومِ مصطفٰے و مُرتضٰے کے تمہیں پر ہیں کھلے اَسرار یا غوث

## د نیکۍ د دعوَت عظیمه جذبه

پیرانِ پیر غوثِ اعظم دستګیر رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي چې په شروع شروع کښې به ما باندې بس په ویښه او په خوب کښې د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر (یعني د نیکۍ د دعوت ورکولو او د بدۍ نه د منع کولو) ډیره غَلَبه وه او د تبلیغِ قرآن و سُنّت د پاره به هر

وخت بےقراره اوسیدم او په ځان به مې هُم اختیار نه وو، او که ما سره به صرف دوه درې کسان هم وو نو ما به هغوئې ته د قرآن و سنّت خبرې کولې، بیا زما خوا ته د خلقو دومره ګڼره شروع شوه چې په مجلِس کښې به ځائے باقي پاتې نه شو. چنانچه زه د عید ګاه طرف ته لاړم او وَعظ و نصیحت مې شروع کړو، هغه ځائے هم تنګ شو نو خلقو زما ممبر د ښار نه بهر یوړو بیشمیره خلق به پیدَل او سواره راتلل او د اجتماع نه بهر به [هُم] ګیر چاپیره اُودریدل او وعظ به ئې اوریدلو تر دې چې د اوریدونکو شمیر اویا زره (70000) ته اورسیدو.

## په دیارلسو علومو کښې بیان

شیخ عبدُ الوهاب شَعراني، شیخ عبدُالحق مُحدِّثِ دهلوي او علّامه محمد بن یَحيٰ حَلبي رَحِمَهُمُ اللّٰه لیکي چې: "حضرت سیدنا شیخ عبدُالقادر جیلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به په دیارلسو علومو کښې بیان کولو." علّامه شعراني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یو بل ځائے کښې هم فرمائي: د پیرانِ پیر غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په مدرسه کښې به خلقو د هغوئې نه تفسیر، حدیث، فِقه او عِلمُ الْکَلام لوستلو، د غرمې نه مخکښې او وروستو دواړه وختونو کښې به ئې خلقو ته تفسیر، حدیث، فِقه، کلام، اُصول، او نحو لوستلو او د ماسپښین نه پس به ئې د قراءَتونو سره قرآن ور زده کولو. (اخبارُالاخیار،ص11)

پیرانِ پیر غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به په هفته کښې درې ځله بیان کوَلو، په مدرسه کښې د جُمعې په سحَر، د نهې په ورځ ماښام او په خانقاه کښې د اِتوار په سَحَر.

## د يو لاك نه زيات بےعملو توبه اُوكړه

د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په مجلِس كښې به ځلور سوه (400) علماؤ د هغوئي بيان ليكلو او بعضې وخت به هغوئي د مجلِس په دوران كښې يو څو قدمه په هوا كښې اُوچت شولو او بيرته به راغلو په كُرسئ به كښيناستلو. هغوئي فرمائي: زما زړه غواړي چې څنګه زه مخكښې ووم اوس هُم هغسې په ځنګلونو كښې اوسيږم چې نه زه خلق وينم او نه ما ويني او بيا ئې اوفرمائيل چې اللّٰه پاك دا اوغوښتله چې زما نه خلقو ته فائده اُورَسي ځكه چې زما په لاس باندې د پينځو سوو (500) نه زيات يهود او نصارئ مسلمانان شوي دي او زما په لاس باندې د يو لاك نه زياتو بےعملو توبه كړې ده او دا لويه نيكي ده. (بهجةُالاسرار،ص184)

وَعظوں کی تیرے مُرشد ہے دُھوم چار جان | میں بھی کبھی تو سُن لوں میٹھا کلام کہنا
جلوہ دِکھانا مُرشِد کلمہ پڑھانا مرشد | جس دَم ہو زندگی کا لبریز جام کہنا
عطار کو بُلا کر مُرشِد گلے لگا کر | پھر خوب مُسکرا کر کرنا کلام کہنا

## د ديارلسو غير مُسلمو اسلام قبلوَل

يو ځل د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په بارګاه كښې ديارلس غير مُسلمه حاضر شول او د هغوئي په لاس مبارك باندې د وَعَظ په مجلس كښې مسلمانان شوَل او بيا ئې اُووئيل: چې مونږ د مغرِب د علاقے نصارئ (غير مسلمه) يُو. مونږ د اسلام

راوړلو اراده اُوکړه خو مونږ په **تَرَدُّد** (یعني شک) کښې وو چې چرته لاړ شو او اسلام قبول کړو. نو بیا مونږ د غیب نه آواز واوریدو چې: **"اے کامیابې ډلې! تاسو بغداد ته لاړ شئ او د شیخ عبدُ القادر** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه **په لاس باندې مسلمانان شئ ځکه چې د هغوئي په برکت باندې به ستاسو په زړونو کښې هغه ایمان داخل شي چې هغه به بل ځائے کښې نه وي."** (بهجةالاسرار،ص185)

بیاں سُن کے توبہ گنہگار کرلیں　　　زباں میں وہ دیدواثر غوثِ اعظم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د "نحو" امام به دِ جوړ کړم

امام ابو محمّد بن خشّاب نحوي وائي: ما به د ځوانئ په دَور کښې عِلم نحو (عربئ ګرائمر) وئیلو ما به خلقو نه د پیرانِ پیر غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ښکلي بیان صفتونه اوریدل. نو ما به اراده اوکړه چې د هغوئي بیان واورم خو د وخت د کمي په وجه به پاتې شوم- یوه ورځ ما پخه اراده اوکړه او د پیرانِ پیر غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په مجلس کښې حاضر شوم کله چې هغوئي کلام شروع کړو: نو زما زړه ته د هغوئي کلام خوند رانکړو او نه زه په کلام پوهه شوم. ما په زړه کښې اُووئیل چې زما نن ورځ ضائع شوه. په دغه وخت کښې پیرانِ پیر غوث پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه زما طرف ته متوجّه شولو او اُوئې فرمائیل: ستا د پاره دِ هلاکت وي، ته د ذِکر په مجلِس عِلم نحو ته فضیلت ورکوے او هغه اختیاروے؟ زمونږ

صُحبت اختيار كړه مونږ به تا (د عربئ د ګرائمر مشهور امام) **سِیْبَوَیْه** جوړ كړو. دا ئې چې واوريدل نو عبدالله خشّاب نحوي د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره اوسيدل شروع كړل د هغې نتيجه دا ظاهره شوه چې هغوئې د علم نحو سره سره په نورو علومو كښې هم ماهر شو. (قلائد الجواهر،ص32،تاريخ الاسلام للذهبي 267/39)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اوليائے كرامو سردار

فتاوٰی رضويه جلد 26 ص 559 كښې دي: په دې كښې هيڅ شك نشته چې د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مرتبه ډيره اعلٰی او افضله ده. غوث په خپل دَوَر كښې د ټولو اولياؤ سردار وي او زمونږه پيرانِ پير غوثِ اعظم د امامِ حسن عسكري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پس د سيدنا امام مهدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د تشريف راوړلو پورې د ټولې دنيا غوث او د ټولو غوثانو غوث دے او د ټولو اولياؤ سردار دے او د ټولو اولياؤ په څټونو باندې د هغوئې قدَم دے. (نزهة الخاطر الفاطر،ص6. فتاوٰی رضويه،جلد26ص559مع التهسيل)

امام ابوالحسن علي شطنوفي شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: شيخ خليفه اكبر رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته به د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات ديدار كيدلو. هغوئې اُوفرمائيل: قَسَم په خُدائے! ما د رَسُولُ الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په باركاه كښې عرض اُوكړو: يَارَسُولَ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ! شيخ عبدُ القادر فرمائيلي دي

چېږ زما قدم د هر ولي په څټ باندې دے. نو د الله پاك آخري نبي مكّي مدني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: "**عبدُالقادر رښتيا وائي او ولے به نه وي چې هُم هغه قُطب دے او زه د هغوئي نګهبان يم.**" (بهجةالاسرار،ص10مصر)

امام اِبنِ حجر مكي شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فتاوٰی حديثيه كښې فرمائي: كله كله اولياء كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه ته د اوچتو كلماتو (يعني د غټو غټو خبرو) وئيلو حكم كيږي، د پاره د دې چې كه څوك د هغوئي د بُلند مقام نه ناخبره وي چې هغوئي هُم خبر شي، يا د شُكرِ اِلٰهي او د هغه نعمت د اظهار كولو د پاره، څنګه چې د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د پاره اوشو او هغوئي په بيان كښې ناڅاپه اُوفرمائيل چې زما قدَم د هر وَلِيُّ الله په څټ باندې دے، او فوراً د ټولې دُنيا اولياؤ دا قبوله كړه (او يوې ډلے روايت كړے دے چې پيريانو اولياؤ هم) سرونه ښكته كړل. (الفتاوٰی الحديثيه، ص414،دار احياءالتراث العربي بيروت)

ډيرو عارِفينو (يعني د الله پاك پيژندګلو لرونكو بُزرګانو) فرمائيلي دي چې د پيرانِ پير سيدُنا شيخ عبدُ القادر جِيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا قول "قَدَمِيْ هٰذِهٖ عَلٰى رَقَبَةِ كُلِّ وَلِيِّ اللّٰهِ" د خپل ځان له طرفه نه وو فرمائيلے بلكه الله پاك د هغوئي د قُطبيّتِ كُبرٰی (يعني ډير لوئي ولي الله كيدل) ښكاره كولو د پاره هغوئي ته حكم اُوكړو. لهٰذا يو ولي ته هم دا ګنجائش اُو نه شو چې څټ ئې نه وے ښكته كړے او قدم مبارک ئې په خپل څټ نه وے اخستے بلكه په ډيرو روايتونو كښې دي چې پخوانو ډيرو اوليائے كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه د پيرانِ پير غوثِ اعظم د ستګير رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د وِلادتِ [يعني پيدائش] مبارك نه تقريباً سل كاله مخكښې خبر وركړے وو

چې نزدې به په عجم کښې يو صاحِب پيدا کيږي او دا به فرمائي چې ”**زما دا قدم د هر وليُ الله په څټ باندې**“ په دې فرمائيلو به د هغه وخت ټول اولياء د هغوئي د قدم نه لاندې خپل سرونه کيږدي او د هغوئي د قدم د سُوري لاندې به داخِل شي. (ایضاً)

غوثِ پر تو قدم نبی کا ہے، اُن کے زیرِ قدم وَلی سارے
ہر وَلی نے یہی پکارا ہے واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

| | | | |
|---|---|---|---|
| دَم دَمادم دستگیر | غوثِ اعظم دستگیر | آپ ولیوں کے اَمیر | غوثِ اعظم دستگیر |
| میرا پیر میرا پیر | غوثِ اعظم دستگیر | بے مثال بے نظیر | غوثِ اعظم دستگیر |
| محبوب ربّ قدیر | غوثِ اعظم دستگیر | آپ ہیں پیروں کے پیر | غوثِ اعظم دستگیر |
| دِلپسند ودِلپذیر | غوثِ اعظم دستگیر | زیر ہو نفسِ شریر | غوثِ اعظم دستگیر |
| کاش میں بن جاؤں پیر | غوثِ اعظم دستگیر | آ گئے منکر نکیر | غوثِ اعظم دستگیر |
| تیری زِلفوں کا اَسیر | غوثِ اعظم دستگیر | ہو کرم میرے پیر | غوثِ اعظم دستگیر |

# سلسهٔ قادريه كښې د مُريد او طالِب كيدلو بَركت!

د پيرانِ پير غوثِ اعظم شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمان دے چې: الله پاك ما سره وعده كړي ده چې زما مُريدان به جنّت ته داخِلوي. (بهجةالاسرار، ص193 ملخصاً)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسنّت حضرت علّامه مولانا محمّد اِلياس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې دور هغه عظيم عِلمي او روحاني شخصيّت دے د چا په بركت چې په زرګاؤ كفار مسلمانان شوي دي او د لكونو مسلمانانو ژوند بدل شوے دے او د سنّتو په لاره روان شوي دي، د خير خواهئ د جذبے په وجه **مَدَني مشوره** دركووم چې تاسو هم د اميرِ اهلِسنّت په ذريعه د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په سلسله كښې مُريدان شئ او كه تاسو د **مخكښې** نه د چا مُريد ئې نو د بركت حاصلَولو د پاره طالب جوړ شئ، اِنْ شَآءَاللّٰه په دُنيا او آخرت كښې به د **دې** ډير بركتونه درنصيب شي.

سُنا لا تَخَف تیرا فرمانِ عالی غلاموں کی ڈھارس بندھی غوثِ اعظم

## د WhatsApp په ذريعه مُريد جوړ شئ

د مُريد كيدلو يا بل څوك مريد جوړلو د پاره د هغه نوم مع ولديّت او عمر اوليكئ او **+923212626112** باندې ئې وټس اَپ كړئ، ❁ په دې نمبر باندې كال نه ريسيو كيږي، صِرف د ليكلو په صورت كښې دا تفصيلات راوليږئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# فہرست

فيضانِ غوثِ اعظم 3

د دُرُود شريف فضيلت ........................................ 3

عظيم اِحسان ........................................ 3

د غَوثِ اعظم تعارُف ........................................ 5

باباجان ته خوشحالي ........................................ 5

قُطبِ عالَم ........................................ 6

د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خاندان ........................................ 7

د تختِ سكندري هيڅ پرواه نه كوي ........................................ 8

د غَوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عبادَت ........................................ 9

خوفِ خدا او پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ........................................ 11

د مزار نه رابهر شو او سيني ته ئي نزدې كړو ........................................ 12

د طُلبائے كرامو سره د پيرانِ پير غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه محبّت .......... 14

د استاذانو د پاره دَرس........................................ 14
د نیکئ دَ دعوَت لویه جذبه ........................................ 15
په دیارلس علومو کښې بیان ........................................ 16
د یو لاك نه زیات بےعملو توبه اُوکړه........................................ 17
د دیارلس غیر مُسلمو اسلام قبلوَل........................................ 17
د ,,نحوي،، امام به دې جوړ کړم ........................................ 18
د اولیائے کرامو سردار........................................ 19
سلسۂ قادریه کښې د مُرید و طالِب کیدلو بَرکت!........................................ 22
د **WhatsApp** په ذریعه مُرید جوړ شئ........................................ 22

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَّتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com